افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

ادبی - فرهنگی	Literary - Cultural



د یوه شاعر اندیښنې

ویناوال: احمدشاملو
ژباړن: فرهاد ویاړ
ایډیټر: سرمد
خپرندویه: سیند

د یوه شاعر اندیښنې

احمد شاملو

فهرست

سریزه
اندیښنه
د مهرگان جشن
نوم يې گئومات او مشهور په غاصب
اوس وګورئ چې د ضحاك قضیه څه ده
د فردوسي واقعي شخصیت
پرېږدئ چې یو تریخ حقیقت تاسو ته ووایم
خبره راڵنډه کړم

سریزه:

تعصب، هغه کرکجن ډنډ دی چې زموږ د هیواد «روڼ اندي» په کې تر ښته ډوب شوي دي. زموږ په هیواد کې تعصب د توکم، ژبې، سیمې، فکر، دین، مذهب، جنس او... په بڼه انسانیت، خواخوږي، وجدان، اخلاق او فرهنګ د نیستی په درشل کې ودرولي دي.

تعصب د ارتجاع، امپریالیزم او تالي ځټو په لاس کې هغه ارزانه او آسانه وسیله ده چې ورسره خپلې ښکیلاکګرې موخې پلي کوي او ولسونه په ټګماری سره د منځنی پیریو په تیاره کې زنکوي تر څو طبقاتي پوهي ته ونه رسیږي او د مریبانو په توګه د پانګوالو، فیوډالانو او روحانیانو په رکاب کې توره ووهي او وینه ورکړي.

همدا ډول زموږ په مېنه کې شته داسې هنري، ادبي، فرهنګي، سیاسي او فلسفي اندونه چې له ارزونې، پلټنې، څیړنې او منطقي تفکر پرته د میراث په توګه موږ ته رارسیدلي او شته داسې کسان چې حاضر دي دې میراثي اندونو لپاره خپل همنوع چارماري او د الحاد پر صلیب میخ کړي او...

د احمد شاملو دا پرتمینه وینا مې په دې هوډ ژباړلې چې لږ تر لږه د هغه نوي فلسفي لید لپاره لاره هواره کړي چې تعصب له خپلې اډانې شړي او پر طبقاتي بنسټونو ولاړ د ټولنې د پرمختګ او د ولسونو په ګټه دریځ غوره کوي. هیله من یم چې دا ګوډه او ماته ژباړه وکړای شي د هغو مبارزو روڼ اندو تنده ماته کړي چې ډېر پخوا یې پر هر ډول تعصب لاړې تو کړي او یوازې پر علمي، عیني او منطقي نړۍ لید باور او ایمان لري.

خو باید یادونه و کړم چې د شاملو له دې ارزونې سره کټ مټ موافق نه یم، په تیره بیا په تاریخ کې د اتلانو د نقش په اړوند. شاملو په دې وینا کې په تاریخ کې د ولسونو او پرګونو ونډې ته اډو پام نه لري او آن کله نا کله ورته په ټیټه او سپکه سترګه هم ګوري. په داسې حال کې چې دا ولسونه او پرګنې دي چې تاریخ جوړوي، نه اتلان او قهرمانان. قهرمانان کولای شي دا بهیر ګړندی یا پخ کړي، خو په هیڅ توګه بشپړ تاریخي بهیر په یوازې توګه نشي جوړولی. شاملو په دې ډول ارزونې سره له دیالکتیکي ارزونې څخه متافیزیکي او ایده آلیستي ارزونې ته مخ کوي، چې د شاملو په شان پرتمین انسان څخه له تمې لیرې بریښي.

فرهاد ویاړ

د ایران د چارو د شنني او څیرنې د مرکز په اتم کنفرانس کې
د احمد شاملو وینا
(د ۱۹۹۰ کال اپریل، برکلي، کالیفرنیا)

اندیښنه

ډیرو ګرانو دوستانو،

ستاسو په منځ کې شتون او له تاسو سره خبرې کول او اوریدل تل زما لپاره یو مغتنم فرصت او ډیره ښه تجربه ده. خو کله چې سره راټولیږو معمولاً یوازې د سیاسي مسایلو په اړه خبرې کوو، که ښکاره ووایم کوښښ کوو چې د پولې دننه پیښو په اړه خبرې وکړو او هغه څه چې مو په هیواد کې تیریږي په خپل بنسټیز اندلید سره یې وتلو او داسې نور او نور او دا نو اوس ورو ورو په یو رسم او عادت بدل شوی دی او ډیر یې د دود بڼه غوره کړې. زه په پام کې لرم چې نن شپه دا رسم مات کړم او خبرې له نورو ځایونو څخه پیل او یو بل ځای ته یې ورسوم. غواړم د راتلونکې په اړه د خپلو اندیښنو په هکله وغږیږم. کولای شم خپلې خبرې یوازې په یوې لنډې پوښتنې پیل کړم، خو دې پوښتنې ته د رسیدلو لپاره اړ یم چې لومړی یې مقدمات جوړ او بیا یې زمینه برابره کړم.

فکر کوم چې د دې زمینې د جوړولو لپاره غوره به دا وي چې یو تاریخي حقیقت د بیلګې په توګه راواخلم، ویې څیړم، وړاندې یې کړم او بیا له لاسته راغلې پایلې څخه ګټه واخلم او خپله پوښتنه د هغې په رڼا کې طرحه کړم.

دولس کاله وړاندې مې په نیویارک کې د مهرګان په جشن کې ولیدل چې زموږ دوستان د دې جشن ویاړنه «پر ضحاك د كاوه بريا» ګڼي. البته دا موضوع نه نوې ده او نه هم کومه حیرانتیا لري، ځکه له څیرنې سره سم ډیری دوستان د نړۍ په هر ځای کې چې دي، دا لفظي تیروتنه کوي. زه دا موضوع د هماغه تاریخي بیلګې په توګه چې مې وویل مطرح کوم او په دوو برخو کې یې تجزیه او تحلیلوم، ولیدل شي چې کوم ځای ته رسیږم.

د مهرګان جشن:

مهر، په اصل کې په لرغوني پارسي کې، میترا یا که سم یې تلفظ کړم میثره و. او مهر یا میترا یا میثره هماغه لمر دی. مهرګان هم چې په لرغوني پارسي کې میثرګانه تلفظ کیده، د ژب دود له مخې یعنې «لمر ته منسوب» معنا ورکوي.

په خپله د میثره یا مهر یا لمر په اړه باید ووایم چې د ایرانیانو له اسطوره ای خدایانو څخه یو و او د ایراني اند د ځلیدو یو ښکاره او ځلیدونکی انځور ګڼل کیږي چې له مخې یې د لومړي ځل لپاره د خدای اند او د خدای تصویر د انسان په بڼه ځمکې ته راځي او که په څیرتیا سره پام وکړئ، وینئ دا هغه بیلګه ده چې وروسته د هغې له مخې مسیح جوړوي.

دلته لازمه ده چې د مطلب په څنډه کې د یوې نکتې یادونه وکړم چې هیله من یم بې ارزښته ونه ګڼل شي:

د مسیح د اسطورې اهمیت په دې کې دی چې مسیح (البته د مسیحیانو په باور) د خدای زوي شمیرل کیږي - یعنې د الوهیت یوه برخه. دا الوهیت ځمکې ته راځي؛ د خدای یوه برخه له آسمان څخه ځمکې ته راځي، هغه هم د یوه خاورین انسان په بڼه. له انسان سره د انسان لپاره هلې ځلې کوي، له انسان سره او د انسان لپاره رنځ ګالي او بالاخره د انسان د ژغورنې لپاره ځان بلهاري کوي... موږ له مسیحیت سره هغه ملنډې نه لرو چې پاپ، کشیشانو او واتیکان جوړې کړې، خو د مسیح د اسطورې په فلسفي شنني سره دې ډیرې ښایسته پایلې ته رسیږو چې انسان او خدای د یو بل لپاره رنځ ګالي، شکنجه زغمي او بالاخره د یو بل لپاره بلهاري کیږي. داسې یوه اسطوره چې ډیره ښایسته، پرتمینه او له معنا ډکه ده.

لنډه دا چې ځمکې ته د خدای راښکته کیدل؛ د خدای تجسد په هغه دردمن قالب کې چې له غوښې، پوستکي او هډوکي جوړ شوی او آسمان ته د مسیح بیا ستنیدنه ټول د مهر یا میثره د بیلګې له مخې جوړ شوي دي. د مهر په دود کې او د میترایانو د اعتقاداتو له مخې، میثره له هغې وروسته چې د انسان په بڼه ځمکې ته راځي او د خاورې د بداینې او د ځمکې د برکتي کولو لپاره غوا قرباني کوي، بیرته آسمان ته ستنیږي.

دا هم مهر، چې مهرګان هغې ته منسوب دی.

ولې مهرګان، په حقیقت او بنسټ کې د خریفي کال یعنې د منې کال پیل او مهمه ورځ وه. دلته ناچار یم چې بیا څنډې ته ولاړ شم او دا ووایم چې زموږ نیکونو د یو لمریز کال پر ځای دوه نیم کاله درلودل چې عبارت وو له خریفي یا منې او ربیعي یا پسرلني کال څخه چې بحث یې ډیر مفصل دی او زموږ د ننني شپې له بحثه وتلی دی؛ خو په ټولیزه توګه په لنډو کې ویلی شم چې همدا ظاهراً کوچنی نکته د هغو معتبرو اسنادو برخه ده چې ثابتوي آریایي قومونه د ځمکې د شمال له لورو څوکو څخه بیلابیلو ټاټوبو او له هغې ډلې نه ایران ته کډه شوي دي، ځکه د کال پیل یې په دوو برخو، دوه میاشتني دوبي او لس میاشتني ژمي باندې ویشل شوی دی او لکه څرنګه چې پوهیږو دا مسئله قطب ته د نژدې

سیمو موضوع ده. وروسته، کله چې دا قومونه هر څومره له جغرافیایي پلوه ښکته راغلي دي، د دوبي موده یې اوږده او د ژمي موده یې لنډه شوې او په خپلي کلیزې کې یې سموني راوړي دي چې بالاخره کال یې تقریباً په دوو شپږ میاشتنیو برخو ویشل شوی چې پسرلنی برخه یې په نوروز او د مني برخه یې په مهرگان پیل کیږي چې په دې دواړو ورځو یې جشن لمانځلو.

د مهرگان د جشن ورځ د بغیادیش میاشتي، یعني د بغ یا میثره له میاشتي سره سمون درلود.

د بغ کلمه په خپله په لرغوني پارسي کې د مطلقو خدایانو په معنی ده او وروسته یې یوازې میترا یا مهر ته اتلاق کړی ده. بخ چې هم د بغ تصحیف دی په روسي ژبه کې د خدای معنا لري. ښایي ستاسو د پوهې لپاره ووایم چې د بغیادیش میاشت د شمس بابلي له میاشتي سره معادله ده چې هماغه شمس یا لمر دی چې د زړې ارمني ژبې معادل یې هم مهرگان دی چې بیا هم د مهرگان یا میثرگانه تصحیف دی؛ سغدي میاشته یې هم فغکان دی چې بیا فغ هماغه بغ د خدای یا مهر معنا لري او د چین پاچایانو ته یې هم له همدې ریښي څخه فغفور یا بغپور ویل چې معنا یې ده د خدای یا د لمر زوی. او بالاخره زردتشتیانو هم دا میاشت مهر نومولې چې موږ یې نن هم کاروو.

دا البته له وخت شمیرنې سره هغه تړاو لرونکي نکتې دي چې د ژب پیژندنې او توکم پېژندنې په شان نورو علومو سره ظاهراً ګډې ریښې پیدا کوي او د یو بل په وسیله تأییدیږي. [د ظاهراً کلمه مې د دې لپاره وکاروله چې زه په دې علومو کې سوچه بې سواد یم]

په هر حال، لکه څرنګه چې وینو، مهرگان له دې پلوه د ضحاك او فریدون او کاوه له پاڅون او داسې نورو چارو سره هیڅ تړاو نه لري. د دویم کال د نیمایي برخې هغه جشن دی چې د نوروز په اهمیت یې لمانځو او د مهر میاشتي (یا د مهرگان ورځ) له شپاړسم څخه د مهر (یا د رام ورځ) تر یوویشتمې پورې د شپږو ورځو لپاره یې دوام درلود. البته دا شونتیا به وي چې د ضحاك نسکوریدلو له همدې ورځې سره سمون درلودلی وي، ولې داسې یو سمون د دې لامل نشي کیدای چې د دې جشن وجودي علت بدل کړي. د ساري په توګه که چیرې ناصرالدین شاه یې د جمعې په ورځ وژلی وي، موږ ادعا وکړو چې هره جمعه د دې لپاره رخصتي ده ځکه چې ناصرالدین شاه په همدې ورځ وژل شوی دی.

مخکې مې دې ټکي ته اشاره وکړه چې مسیحیت د مهرپرستۍ ټول آداب او دودونه کټ مټ تقلید کړي چې له هغې ډلې څخه د تعمید غسل او د شرابو او ډوډۍ تقدیس یادولی شو. دا هم باید ووایم چې د یو شمیر کسانو په باور، د دسمبر د پنځه ویشتمې نیټې جشنونه چې بیا وروسته د مسیح د کلیزې په توګه لمانځل کیده، ریښې یې د همدې مهرگان جشن ته رسیږي. او اوس چې د مسیح د میلاد خبره راپورته شوه دا ټکی هم باید په لنډو کې ووایم چې په خپله میترایي ایرانیانو د مهرگان ورځ په ورته وخت کې د مشیا او مشیانه د زیږیدنې ورځ ګڼله چې د سامي اسطورو هماغه آدم او حوا ده؛ دا ټکی په بندهشن (هغه مهم کتاب چې له تیرو وختونو څخه موږ ته رارسیدلی) کې هم راغلی دی. البته دلته ډیر نور مطالب هم شته چې زه ناچار یم له هغې تیر شم، د ساري په توګه دا ټکی چې آیا اصولاً مسیا یا میسا (مسیح او مسیحا) هماغه مشیا دی که نه، او دا ډول څو نور ټکي.

خو راځئ چې پر دویمې مسئلي خبرې وکړو، یعني د حضرت ضحاك قضیه راواخلو.

زما ښو دوستانو! زموږ هیواد په رښتیا چې جالبه هیواد دی. په دې هیواد کې داسې اندلرونکي سرداران راپورته شوي چې ډیر حیرانوونکي فکري او ټولنیز غورځنګونه یې هڅولي، ثمر ته یې رسولي او کله یې هم تر بشپړ بري پورې مخې ته وړي دي. ډیر انقلابي روڼ اندي زموږ د هیواد د تاریخ په عجیبو وختونو کې راڅرګند شوي چې د هغوی د تاریخي لاسته راوړنو مطالعه نه دا چې ستره ده، نه منونکي هم ښکاري.

البته د ټولو زوروواکو یو ګډ چال چلند، د تاریخ کړول دي، او په پایله کې په خواشینی سره څه چې نن موږ د تاریخ په نامه لرو، یو موټی دروغ او زړې ببولالې دي چې د بیلابیلو پېړونو درباري غوړه مالانو او چاپلوسانو سره تړلې دي، او دا د حقایقو کړونه او سپین تور ښودل او تور سپین ښکاره کول دومره ډیر دي چې کولای شي ښه نیت لرونکي کسان هم تیر باسي.

د دې تاریخي کږوني ډیره جالبه بیلګه همدا د فریدون او کاوه او ضحاك پیښه ده.

مخکې له دې چې پر دې چارې وغږیږم، باید د اسطوري او تاریخ په اړه د یو ټکي یادونه وکړم: دا ټکی د مطالعې وړ ټکی دی، ډك له مثالونو او شواهدو دی، خو زه په ناچاری سره باید په بیړه له دې نه تیر شم او دومره اشاره کوم چې اسطوره یا میت یو ډول افسانه ده چې کیدای شي یوازې د هیلو او آرزوګانو پر بنسټ د پخوانیو انسانانو د تخیلاتو زیږنده وي او په واقعي نړۍ کې د تاریخي حقایقو ملاتړ ولري، یعني داسې بې منطقه او ماشومانه افسانه وي چې تار او پود یې له یوې تاریخي پیښې څخه سرچینه اخیستې او بیا یې د یو ملت په ذهني چاپیریال کې وده کړې وي او بله بڼه یې نیولې وي، لکه د ابراهیم بن احمد ساماني د ژوند لنډ تاریخ چې د بودا سیدهارتا له افسانه اې ژوندلیك سره ګډ شوی او د ابراهیم بن ادهم په اسطورې بدل شوی دی. په دې صورت کې کولای شو په بیلابیلو سرچینو کې له پلټنې سره دا تاریخي حقایق ومومو، پر هغوی د معرفت وړانګې وشیندو او سموالی او ناسموالی یې فرق او منځپانګه یې پیدا کړو، چې بیا هم د ضحاك اسطوره د هغې یوه روښانه بیلګه ده.

نوم يې ګئومات او مشهور په غاصب

د ایران په لرغوني تاریخ کې د یوه سړي نوم اخیستل شوی چې ګئومات نومیږي او مشهور په غاصب دی.

پوهیږو چې د کوروش له مرګ وروسته زوی یې کبوجیه د سردارانو او درباریانو او روحانیانو او اشرافو په توافق سره پاچاهي ته ورسید او د مصریانو د لوټني لپاره یې هلته لښکر وویست، ځکه جګړه او نړی نیونه چې لومړی د مغلوبو ملتونو د شتمنی د لوټني او بیا وروسته د کلني باج و خراج سره مل وي، په هغه وخت کې د لښکریانو سردارانو ته چې یوازې د اشرافو طبقې څخه ټاکل کیدل، یو ډول ثمرورکوونکی تولیدي کار شمیرل کیده (البته که وکړای شو لوټني او باج اخیستني ته «تولیدي کار» ووایو!).

پریږدئ یو ټولیز حکم صادر کړم او پاکې اوبه مو پر لاسونو توی کړم: د وخت ټول زورواکي لیوني وو. اروا پیژندنه په آسانی سره دا ټکی ثابتولی شي. او که وغواړم خپل حکم یو څه پراخه کړم ښایي هغه په دې ډول سم کړم چې: د تاریخ د زورواکو په یو څه لاس بر و: ټول د مشنګ له جنسه وو او په ځینو کې دا مشنګتوب د ځنځیري لیونتوب تر وروستی کچې پورې رسیده. یعني شاوخوا کسانو، سرتیرو، مریيانو او په خته نوکرانو یې هومره شاوخوا غوړه مالي کړې ده او دومره یې ورته لکی خوځولي ده او ځیني ځایونه یې ورته ځټلي دي او ورڅخه یې ستري او لوېي نابغې، مخور هوښیاران او پوه رهبران جوړ کړي چې ورو ورو خپلو حریفانو ته مشتبه شوي دي او دومره شوده کړای شوي دي چې د یوه په ذهن کې ناڅاپي ګرځیدلي چې زه د لمر زوی یم؛ هغه بل ادعا کړې ده چې زه د خدای زوی یم؛ سکندر ادعا وکړه د هغه مار نطفه ده چې د شپې لخوا یې د مور پر برستني حرکت کاوه او نادرشاه چې د هماغه لومړیو څخه بالاخانه په اجارې ورکړې وه او پلار یې هیر کړ، مدعي شو چې د توري زوی، د توري لمسی، د توري کړوسی او د توري کودی دی. د دې تاریخي لیونو تر منځ د بیچاره کبوجیه حساب له نورو بیل دی. دا ښاغلی د هغو ملنګانو په څیر و چې دوړو کولو ته یې اړتیا نه درلوده او دا اړتیا یې هم نه درلوده چې چاپیر کسان یې د پوزې مخې ته سره ټوټه وخوځوي او یا هم د لکی لاندې ورته اغزی کیږدي. ځکه چې د لومړیو څخه زموږ د مشهورې وینا له مخې د بلوغتیا ماده یې مستعده وه او بی لکی نځیدو. دا بی عقله سړی (اشرافو هم له همدې امله پر تخت کښینولی و چې واګې یې ورته په خپلو لاسونو کې ولري) مصر ته د رسیدو او بري او هلته له بې شمیرو جنایتونو وروسته سوچه ځنځیري لیونی شو. بې هوښي او کمزورتیا او میرګي او د لیوني سپي د داړلي انسان حالت یې پیدا کړ او داسي ورځې ته ورسید چې مصریانو د زړه له کومې باور وموند چې دا ناروغي ورته د مصر د خدایانو لخوا هغه کیفر دی چې د جنایتکارانه کړنو په بدل کې وربانذی نازله کړی ده.

کبوجیه یو ورور درلود چې بردیا نومیده. بردیا طبعاً د خپل ورور له جنوني حالت څخه خبر و او پوهیده چې نن یا سبا به د هغه د جنون پای یوه تماشه شي او تخت او خول به له لاسه ورکړي. له بلې خوا یې ځینې افکار هم درلودل او څو ځله یې غورځنګونه په لاره اچولي وو او اشراف یې د وینې تږي وو او پوهیده که چیرې کبوجیه وپرځول شي، اشراف به هغه په هیڅ پلمه پرې نږدي چې پر ځای کښیني. همدا و چې مخکې شو او د کبوجیه او پوځ په غیابت کې پر تخت کښیناست. کله چې د بردیا د پاڅون خبر مصر ته راورسید، داریوش او د پوځ نورو مشرانو د کبوجیه سر د اوبو لاندې کړ او پر ایران یې برید وکړ تر څو په قهرجن ځواك سره د بردیا لاس لنډ کړي.

کوم جعلي او لاس خوړلی تاریخ چې نن زموږ په لاس کې دی، پیښه په دې ډول رانکلوي:

« کبوجیه مخکې له دې چې مصر ته حرکت وکړي د پرك ساس پس په نامه خپل یو محرم ته دنده ورکړه چې په پټه او داسې چې څوك پوه نشي، بردیا ووژني؛ داسې نه چې په غیاب کې یې د پاچاهي هوا د هغه په سر ولګیږي. دا دنده تر سره شوه، خو د قسمت له مخې د ګئومات په نامه د زردتشتیانو یو روحاني چې د مقتول بردیا سره یې څیره په عجیبه توګه یو شان وه، له دې راز څخه خبر شو او لکه څرنګه چې پوهیده له هغه پرته بل څوك د بردیا له وژل کیدو څخه خبر نه دی، وېې ویل چې زه بردیا یم او پر تخت کښیناست.»

شته جعلي تاریخ د پیښي ادامه په دې ډول کړوي:

« کله چې په مصر کې دا خبر د کبوجیه غوږ ته ورسید، څه د دې لپاره چې یو چا په دروغو خپل ځان بردیا ګڼلی دی او یا هم د دې لپاره چې دوکه شوی دی او بردیا یې نه دی وژلی، ډیر په قهر شو (او دلته دوه روایتونه شته:) یو دا چې د جنوني قهر له امله یې ځانوژنه وکړه، بل دا چې بې له ځنډه یې خپل آس ته ودانګل چې ایران ته ولاړ شي او د دې ناڅاپي دنګلو له امله کومه توره یې چې ملا ته تړلې وه، په خیټه کې ننوځي او د هغې له ټپه مري.»

دا وروستی روایت په بشپړه توګه جعلي دی. د جمشید د تخت ډبرکیندني ښکاره کوي، پاچا څه چې آن عادي سرتیرو هم توره بې غلافه پر ملا نه تړله.

په هر حال، د دې جعل شوي تاریخ په وینا:

«پرك ساس پس د بردیا د وژلو راز د پوځ له مشرانو سره شریکوي. هغوی په بیړه ځان ایران ته رسوي او پوهیږي، چا چې خپل ځان بردیا نومولی دی د ګئوماته په نوم هغه د زردتشتیانو روحاني دی چې ورور یې د سلطنتي مانیو رییس دی. نو له مخکنی پریکړې سره سم په ځانګړي ساعت پر ماڼی یرغل وړي او هغه وژني او پریکړه کوي چې سبا په یوه ځای کې سره راټول شي او د هر چا آس چې د نورو له آسونو څخه مخکې وشنیدو، هغه به پاچا شي. د داریوش ناظر هوښیاري کوي او یوه شپه مخکې په وعده شوي ځای کې د داریوش د آس د معارفي وسایل او اسپه برابروي. په سبا سهار د داریوش آس دي ځای ته په رسیدو سره د تیرې شپې د خوندورو شیبو په یاد شنیږي او د دغه شهوتناکه ځناور په مټ، پاچاهي (چې البته سل ځله الهي ودیعه ده) داریوش ته ورکول کیږي.»

ښه، تاریخ داسې وایي. خو دا تاریخ جعلي دی، دوکه او له دروغو ډك دی، د حقیقت ملنډ وهونکې کړونه ده. راځئ وګورو چې حقیقت څه دی:

لومړی باید ووایم، داریوش او ملګرو یې څه اړتیا درلوده چې کبوجیه ووژني؟

۱. د کبوجیه لیونتوب هغې کچې ته رسیدلی و چې نور نو باید په اړه یې اساسي فکر کړی وی.

۲. یوازې د کبوجیه په وژنې سره یې امکان درلود چې د بردیا وژل د هغه پر غاړه واچوي او په خپله تورن نشي.

۳. لکه څرنګه چې به وګورو د کبوجیه په وژلو سره د بردیا وژنه آسانه وه.

همدا ډول باید ووایم چې:

- ولې یې د بردیا له وژنې وروسته د ګئومات دروغجنه پیښه رامنځته کړه؟

۱. ځکه چې له کبوجیه وروسته پاچاهي بی له شکه بردیا ته رسیده او هغوی اول دا چې د بردیا د کړنو او اقداماتو سرسخته مخالفان وو او دویم دا چې د بردیا په وژنې سره په پاچا وژنې تورنیدل چې پایلې یې روښانه وې. دا و چې بردیا یې د ګئومات په نامه وواژه.

۲. د بردیا ټولنیز نفوذ هومره ډیر و چې ولسي پرګنو یې وژل زغملی نشول.

د پیښې د واقعیت ارزونه کولای شي په ښه ډول دغه ټکې روښانه کړي:

موږ د دې چارې د واقعیت پیدا کولو لپاره یو معتبر تاریخي سند لرو. دا سند د بیستون کتیبه ده چې وروسته د همدې داریوش په فرمان پر ډبرې وکیندل شوه، که څه هم د دروغجن حافظه عموماً کمزوره وي، خو هماغه څه چې د تاریخ کړونې لپاره پر دې کتیبې کیندل شوي دي، د دې تاریخي چلې موټی پرانیزي:

زه اوس یوازې د دې کتیبې څو جملې تاسو ته لولم:

«ما داریوش، ورشوګانې، کروندې او منقولې شتمنی او بردګان بیرته جنګیالیو ته ستانه کړل... ما په پارس او ماد او نورو ځایونو کې هغه څه چې اخیستل شوي وو، بیرته واخیستل.»

عجب، ښاغلی داریوش، دا جنګیالي خلك چې په خپلې کتیبې کې دې ورته اشاره کړې ده، د پوځ له مشرانو او سردارانو پرته څوك دي چې هغه هم له اشرافي طبقې څخه ټاکل کیدل؟

چا له هغوی بردګان، ورشوګانې، کروندې او منقولې شتمنی اخیستې وې چې تا بیرته هغوی ته ستنې کړې؟

د مسئلې اصلي ټکی همدا دی. حقیقت دا دی چې د ګئوماته په نوم اصلاً څوك نه و او هغه څوك چې د داریوش او ملګرو لخوا یې وژل شوی په خپله بردیا دی. بردیا د خپل ورور او د توطئه ګرو درباري اشرافو له نشتوالي څخه استفاده کوي او واك په لاس کې اخلي او بی له ځنډه د ټولنې د جوړښت په بدلولو پیل کوي، د انقلاب تر کچې بدلونونه راولي. هغه څه چې د هرودوت له لیکنې لاسته راځي، ښکاره کوي چې د خپلې پاچاهی د اووه ـ اته میاشتو په موده کې ډیر ښه کارونه تر سره کوي، داسې چې په ټولې کوچنی آسیا کې مړینه یې ملې ناورین ګڼل کیږي او ورته عمومي ویر اعلانوي. هرودوت، د بردیا له اقداماتو څخه له پوځي اجباري خدمت نه د خلکو معاف کول او د درې کالو د مالیاتو بخښنې یادونه کوي، خو د بیستون کتیبه چې د داریوش په فرمان کیندل شوی ده، ښیي چې موضوع له دې خبرو څخه ډیره ژوره وه:

د بیستون ډبرلیکنه د ورشوګانو او د کرنیزو ځمکو او د منقولو شتمنیو یادونه کوي چې داریوش هغه اشرافو او جنګیالیو (د پوځ مشرانو) ته بیرته ستانه کړې دي ـ ښکاري چې بردیا د اشرافي کورنیو منقوله او نامنقوله شتمنی مصادره او دهقانانو او کرونده ګرو ته یې بخښلې وه.

ډبرلیکنه د هغو بردګانو خبره راخلي چې داریوش هغوی بیرته جنګیالیو ته ستانه کړې دي ـ ښکاري چې بردیا بردګي یا لږ تر لږه برده ډوله کار په بشپړه توګه ملغی کړی و.

یو روڼ اندي مورخ په خپلې رسالې کې لیکلي دي:

«په دې بهير کې خبره د شتمنيو او ورشوګانو او د معبدونو سوځولو او د ماليـاتو بخښل او بيګار (برده ډولـه کار) ته رسيږي (او دا ټول، لږ تر لږه) د هخامنشي ټولنې پـه اقتصادي او ټولنيزو اړيکو کـې د يو کړکيچ ښکارندوي کوي.»

دياکونف هم ليکي:

«د ګئوماتـا (او زمـا پـه بـاور پـه خپله برديـا) د کـار لـه پـای مونـدنې وروسـته، داريـوش لـه ډيـرو پـاڅونونو او مخالفتونو سره مخامخ شو. د دې پاڅونونو موخه د برديا د وخت د نظامونو بيا راژوندي کول وو چې داريوش ټول ملغی کړي وو. له دې پاڅونونو څخه لږ تر لږه درې يې په ټوله معنـا د ولسي غورځنګونو بڼه ونيولـه. دا درې عبارت وو لـه فرادا پـاخون، فرورتيش فرائـورت پـاڅون او د پارسي هيزدائـه پـاڅون. داريـوش د دې پـاڅونونو پـه وړانـدې تـريخ او خـونړی چلند وکړ، لکـه څرنګـه چـې پـه بابـل کـې يـې مثلاً يـو وار د غورځنګ درې زره رهبـران او مشران پـه دار وځړول.»

وګورئ په خپله داريوش په دروغجنې ډبرليکنې کې د فرورتيش د کار پای موندنې په اړه څه وايي:

«هغه يې ځنځير تړلی ماته راوست. ما په خپل لاس د هغه غوږونه او پوزه پرې کړه او سترګې مـې ورتـه لـه کاسې راوويستې، هغه يې هماغه شان په ځنځيرونو او هتکړيو سره زما په دربار کې وساتو او ټولو جنګيالو هغـه وليد. له هغې وروسته مې فرمان ورکړ چې هغه په اکباتانه کې پر نيزې کښينوي. همدا ډول مې هغه کسان چـې د هغـه پلويـان وو په اکباتانه کې په يوې کلا کې په دار وځړول.»
اصولاً دا ليونی ډوله غچ اخيستنه او نه باوريدونکي داړل په کـافي ډول د دې غورځنګ ښکاره کوونکی ده او په ښه توګه کولای شي د فرورتيش د غورځنګ د پراختيا او ژورتيا خبر ورکړي.
د تاريخ ړنګ ښودنه اوږده سابقه لري. د انوشيروان پيښې باندې ټول پـوهيږي او نـه يـې تکـراروم. دې سـړي خور حرموني له روحانيونو سره جوړجاړی وکړ که هغه د وروڼو پـر ځـای پاچـاهی تـه ورسـوي، د مزدکيـانو ريښـې بـه وچې کړي.
ليکل شوي دي چې يوازې په يوې ورځ کې په يوه قول سره په ټول هيواد کـې يـو سلو ديرش زره مزدکيـان پـه چل سره ونيول او له سر څخه تر ملا پورې يې د آهکو پـه کوچنيو کوهيـانو کـې ښخ کړل. دې کړنـې داسـې يـوه کرکـه رامنځته کړه چې د رژيم تبليغاتي اداری د هغې د ښو ښودنې د ورکولو لپاره ملا وتړله تر څو د عدل پـه ځنځير او نـورو مسخرو تماشو سره له دې خونړي ليونې څخه د عدل پرښته جوړه کړي، او جـوړه يـې هـم کـړه او داسـې يـې جـوړه کـړه چې وېې کړای شول شايد د تل لپاره تاريخ ته دوکه ورکړي، لکه څرنګه چې نن هم کله د انوشيروان نوم اورو، وغواړو که و نه غواړو د عادل کلمه زموږ په ذهن کې انځوريږي.

زنده ست نام فرخ نوشيروان به عدل   گرچه بسى گذشت كه نوشيروان نماند
(ژوندی دی د نوشيروان وياړلی نوم په عدل/ که څه هم ډير کلونه تير شوی چې نور نوشيروان نشته)

بيچاره سعدي!
لنډه دا چې د داريوش او برديا پيښه درسره ولرئ، څو ورته بيا راستانه شوو.

اوس وګورو د ضحاك قضيه څه ده

ښاغلی حصوري چې زما له دوستانو څخه يو نوميالی څيړونکی دی، پـه يـوې ليکنـې کـې د ضـحاك د اسطورې په اړه ليکي:

جمشيد ټولنـه پـه طبقاتو وويشله: روحـاني طبقـه، د اشـرافو طبقـه، پـوځي طبقـه، د کسبګرو او کروندګرو او نورې طبقې. له دې وروسته ضحاك واك ته رسي. له ضحاك وروسته، فريدون چې د آهنګر کاوه له پاڅون سره پاچاهی ته رسي، لومړنی کار چې کوي، ټولنې ته د جمشد د پېر د طبقاتو راستنول دي. د فردوسي پـه وينـا، فريدون همدا چې پاچاهی ته رسي په ښارونو کې ډنډوره اچوي چې:

سپاهي نبايد كه با پيشه ور   به يك رو جويند هر دو هنر
(پوځي نه ښايي چې کسبګر سره / تر سره کړي په يو وخت دواړه هنرونه)
يكي كاروَرز و دگر گرزدار   سزاوار هر دو پديد است كار

(د یو هنر دی کار د بل ګرزوهنه/ د دواړو لپاره جوړ شوي وړ کارونه)
چون این کار آن جوید آن کار این   پر آشوب ګردد سراسر زمین!
(که هغه وکړي د ده کار او دا د هغه کار/ ډکه به شي ټوله ځمکه له آشوبه!)

دا موږ ته ښکاره کوي چې ضحاك د خپل سلطنت په پېر کې چې د جمشيد او فريدون د سلطنت تر منځ تير شوی دی، په ټولنه کې طبقي له منځه وړي دي. البته موږ دوه درې زره کاله وړاندې د ټولنې د طبقاتي ويش په اړه په ځينو شيانو پوهيږو. دا طبقه ويشنه نه يوازې د لرغونې ايراني ټولنې ځانګړنه وه، بلکې نوی اوستا هم چې متن يې په لاس کې لرو، د دې طبقو شتوالی تاييدوي.
ښکاره ده چې د ضحاك اسطوره، په کومه بڼه چې موږ ته رارسيدلي ده، د هغو کسانو د ذهن انځور دی چې د طبقاتي نظام له ګټو څخه برخمن وو. د هغې طبقې کسان چې د ټولنې د هرم قاعده جوړوي، ولې بايد هيله وکړي چې فريدون راشي او بيا هغوی بيوزلي کړي يا ولې بايد د طبقاتي نظام له راستنيدو څخه په زړه کې ګوړه ماته کړي؟
له دوو حالاتو څخه وتلې نه ده: يا دا چې د اسطورې انځورونکي له شتمنې طبقې څخه وو (چې دا ډير ليرې ښکاري) يا د اسطورې ضبط کوونکو (څه فردوسي او څه هم مصنف خداينامك چې د شاهنامې اخځليك دی) چال وهلی هغه اسطوره چې د بيوزلو طبقو د هيلو ښکارندوي کوله په هغه ډول يې اړولې چې په شاهنامه کې يې ګورو او له دې لارې يې په صادقانه توګه د ځان او د خپلې طبقې د ګټو ننګه کړې ده. طبيعي ده د هغه چا په نظر چې د طبقاتي نظام له ګټو څخه برخمن دی، ضحاك بايد محکوم شي او د بدمرغي کسبګر کاوه چې ټولنيز حقوق نه لري، انقلابي رسالت د بري په درشل کې پای ته ورسيږي او يوازې د آهنګری يو ټوټه څرمن يې د ولسونو د شوده توب لپاره، د پاچا او ولسونو د نه ماتيدونکي پيوستون د نښې په توګه د سلطنتي بيرغ بڼه غوره کړي او فريدون چې پخواني نظام ته د ټولنې ستنوونکی او د طبقو د يوځای کيدنې مخ نيوونکی دی، بايد د درناوي په سترګه وکتل شي او تکريم شي.
حضرت فردوسي د ضحاك د پاچاهۍ په برخه کې د هغه له ټولنيزو اقداماتو څخه يادونه نه کوي او يوازې يې په همدې بسنه کړې چې هغه مخکې له مخکې محکوم کړي. واقعيت دا دی، بې له دې چې موضوع څرګنده کړي او د خپل زړه خبره وکړي د بينوا ضحاك حق يې ورته په ورغوي کې ايښی، دوه مارونه يې ورته په اوږو شنه کړي چې ناچاره دی د آرامۍ لپاره يې د انسان د سر ماغزه پر هغوی وخوري. اوس نو تاسو ولاړ شئ د دې ملنډو په اړه له فردوسي څخه پوښتنه وکړئ چې ولې بايد د دې مارانو د خوراك لپاره د انسانانو سرونه غوڅ کړي؟ ولې يې د مړو د سرونو له ماغزو څخه کار نه اخيست؟ په هر حال د ژوندي انسان د ماغزو د پيدا کولو لپاره لومړی بايد هغه ووژني، که نه؟ هو، نور نو قلم د دښمن په لاس کې دی. تاسې که يوازې د شاهنامې د ضحاك د پاچاهۍ برخې په لوستلو بسنه وکړئ، مطلقاً د قضيې له اصل څخه څه لاس ته نه راوړئ، بس دومره وينئ چې يو بابا پر تخت کښيناستلی چې پر اوږو مارونه لري او ناچاره دی د ځوانانو د سرونو له ماغزو څخه هغوی ته خواړه ورکړي، ترڅو ماران يې و نه ځوروي. خلك تنګيږي او انقلاب کوي او ژوند ورباندې تريخوي او پر ځای يې فريدون پر تخت کښينوي او د انقلاب اصلي اتل هم يو آهنګر دی چې د آهنګرۍ يو ټوټه څرمن يې د بيرغ په توګه په لرګي باندې تړلې. البته فکر ونکړئ چې فردوسی عليه الرحمه نه پوهيده چې د انقلاب کولو لپاره لازمه نه ده چې هرومرو يو شی په لرګی پسې وتړل شي؛ خو دې يوې ټوټې څرمن ته يې اړتيا درلوده چې بايد په راتلونکې کې د لوټمارانو او لوټل شويو د طبقاتي پيوستون د کاوياني بيرغ په توګه ورپول شي!
خو کله چې د فريدون د پاچاهۍ برخې ته ورسيدئ، هغه هم په دې شرط چې سرسري له مطلب نه تير نشئ، ايله به خبر شئ؛ لومړی دا چې د بيچاره ضحاك پر اوږو مارونه يوه پلمه ده او هغه څه چې فردوسي له تاسو پټ کړي او په وخت سره يې خپل غږ نه دی ايستلی، د ضحاک طبقاتي انقلاب دی؛ دويم دا چې په ډيرې حيرانتيا سره دې پايلې ته رسيږئ چې د ضحاك د پېر اتل آهنګر يو شوده جاهل او د بيوزلو طبقو ګټو ته يو خاين انسان راڅرګنديږي!
دا ټکی به يوې خوا ته کيږدو. کوم پاڅون چې خلکو د ضحاك په وړاندې وکړ عملاً د خپلو ګټو په ضد د اشرافي ټولنې له قيد او بند څخه د آزاد شويو ولسونو پاڅون دی او په حقيقت کې هغه کودتا ده چې ځپل شويو اشرافو د لومپنانو او اوباشانو په لمسونې سره د ضحاك په وړاندې په لاره واچاوه. پوښتنه دا ده چې ولې د پاڅون له بري وروسته پاچاهي فريدون ته سپارل کيږي؟ يوازې يو لامل لري: فريدون له سلطنتي کورنۍ څخه دی او د فردوسي په وينا شاهنشاهي پرتم لري، يعنې سلطنتي وينه يې په رګونو کې ده! (چې زه بنده مطلقاً د دې ډول وينې له کيمياوي فورمول څخه اطلاع نلرم).
دا په اصطلاح شاهنشاهي پرتم هغه موضوع ده چې فردوسي وربانديې تل ټينګار کوي. د هغه تعصب په دې باور چې عادي خلك د ټولنې د لارښودنې مقام ته د رسيدلو وړ نه دي، شايد د انوشيروان له داستان څخه په ښه توګه څرګند شي:
قباد له اصفهان څخه د تيريدو پرمهال يوه شپه د يوه بزګر له لور سره تيروي او کلونه وروسته خبريږي چې د شاهنشاه يوې شپې کورودانۍ ورته يو زرين اوربله زوی پيدا کړی دی چې وروسته انوشيروان نومول کيږي او پاچاهۍ

ته رسېږي. ښه، داسي خو نه کېږي. مګر شوني ده چي يو جمجاهي* پاچا له يوي طلاقی ښځي څخه چي د پاچاهي وينه نلري او په بقالي طبقي پوري تړاو لري، نړی ته راغلی وي؟ همدا دی چي په يو ډول د نجلی توکم تر څېړني لاندي نيول کېږي او بې له ځنډه کشفيږي چي نه، کومه انديښنه نشته، نجلی د جمشيد د وينې او ختې څخه ده او د پاچاهانو وينه يې په رګونو کي بهيږي!

د فردوسي د شاهنامې په ټولو پاچاهانو کي، ضحاك هغه يوازيني کس دی چي نشي ويلی:

منم شاه با فره ي ايزدي همم شهرياري، همم موبدي

(زيم پاچا د پرښتو له پرتم سره / هوډ مي پاچاهي، هوډ مي موبدي**)

او دا په خپله ثابتوي چي ضحاك د پاچاهی او آن د درباري اشرافو له کهول څخه نه دی، بلکي هغه کس دی چي د ولسي پرګنو له منځه راپورته شوی دی.

ښاغلی حصوري په دقيقه توګه دې ټکي ته اشاره کوي:

«له هغه ځايه چي دا پېر په ټوليزه توګه له الهي اړخونو څخه چي نورو پېرونو ته يې ورکړی دی، جلا دی، بايد ومنو چي انساني پېر دی... دا ضحاك د اسطوري د انځورګر په نظر کي دومره ناپاکه انځور شوی چي نور يې د آژی دهاك (يا ښامار) ايراني لقب او بيوراسب ايراني نوم ته يې هم پام نه دی کړی او يوځلي يې هغه نـاايراني او بخصوص عرب ګڼلی او په خپل خيال سره يې دا رټه د ايرانيانو له لمن څخه پريمنځلي ده چي خدای مه کړه يو له هغوی څخه هم د طبقاتي نظام په ځير، سپيڅلي امر په وړاندي و نه دريږي!»

کله چي په تاريخ کي د ضحاك د اسطوري شا ونيسو، دې حقيقت ته رسيږو چي د فردوسي ضحاك کټ مټ هماغه غاصب ګئومات دی چي داريوش له برديا جوړ کړی و.

که تاسو هغه څه ته چي ابوريحان بيروني د ضحاك په اړه ليکلي دي پام وکړئ، د بيستون د ډبرليکني له مطالبو سره د هغه د مطالبو ورته والي ته حيران پاتي کيږئ. د ابوريحان د متن يو ډير زيات مهم ټکی د ضحاك په پېر کي "په کورودانی کي د ګډون" اصطلاح ده او دا دقيقاً هماغه شرمناك تور دی چي پر مزدك بامدادن يې هم لګولی دی. پام وکړئ د مزدکي او ضحاکي معتقداتو نژديوالي ته! مزدك له اړتيا څخه زيات هر ډول خصوصي مالکيت رداوه او اشتراکي مالکيت ته يې تبليغ کاوه. د اشرافو لپاره، ښځي د خصوصي شتمنی برخه وه نه د انساني ټولني نيمايي برخه. همدا و چي په ډير حراميتوب سره يې د مزدك حکم ته عموميت ورکړ او هغه يې تورن کړ چي ميرمني د ټولو نارينه لپاره په اشتراکي توګه غواړي. هغه "په کورودانی کي ګډون" چي بيروني، ضحاك ته نسبت ورکړی دی هماغه شرمناك تور دی چي وروسته د مزدك په آئين پسي هم وتړل شو، ځکه کورودانې د زوم او خاوند په معنا ده چي متضاده کلمه يې ميرمن ده. اوس نو دا پريږدئ چي بيروني د هغه پېر په اړه تاريخي څرګندوني کوي چي يوه اسطوره ده او لزوماً د تاريخ بڼه نه لري!

ښاغلی حصوري خپلي ليکني ته په دې جملي سره ادامه ورکوي:

«د ضحاك د حق لاسته راوړنه چي د خلکو د ګټو د خونديتوب په ګناه د اوږي مار او جادوګر ښودل شوی دی بايد موږ د جمشيد د داستان له ادامې څخه و نه دروي: ګورو چي فريدون بيا د ايراني پخواني پاچاهانو زوړ قالب پيدا کوي او د ضحاك خپاند پېر ته پای ورکوي او ټولنه هماغي لاري ته بيايي چي جمشيد وړله.»

د فردوسي واقعي شخصيت

ګورئ دوستانو چي د افسانه اي ضحاك يا د تاريخي برديا حکومت موږ په ناسمه، په تيروتني، د فردي زوروواکی، ظلم، بلوس او استبداد د حاکميت مظهر ګڼلی دی. په بله وينا خپل يوازيني لرغوني شخصيت مو چي له ولسي انقلابي کړنو څخه ډك دی او کولای شوو کارنامې يې د بيستون د کتيبې په شهادت او آن په خپله د شهنامې له مدارکو څخه استخراج کړو، د فردوسي په بدو تبليغاتو چي د خپلو طبقاتي ګټو او شخصي باورونو له مخي يې کړي دي، په ناوړه توګه ککړوو او بيا کاوه د ولسي انقلاب مظهر ګڼو، په داسي حال کي چي کاوه بل هيڅ شی نه و مګر د ولس ضد يو عنصر.

---

*جم: د جمشيد مخفف چي د شاهنامې د داستانونو له مخي د پيشدادي ځلورم پاچا و. لوی پاچا هم ويل کيږي.

جمجماه: لوی او د درناوی وړ پاچا

** موبد: د مغان مشر، د مغان لوړه طبقه او د زرتشتيانو روحاني مشر

په دې ډول د يوې نازل شوې آيې په توګه د فردوسي د ويناو بشپړ منل چې لـه ناچارۍ څخه يې کړي دي، زموږ د بی دقتۍ ګناه ده، نه د هغه ګناه چې خپلې طبقاتي ګټې يا باورونه يې په پام کې نيولي دي.

په دريمې نړۍ کې د رژيمونو سياست، ارتجاعي او ښکيلاکي دی. هر ژريم په خپلو تبليغاتي لوډسپيکرانو سره له يوې خوا يوازې هغه څه چې غواړي او يا يې په خپله ګټه ګڼي تبليغوي او له بلې خوا په سانسور او اختناق سره د هر اند او فکر د خپرولو مخه نيسي، کوم چې د خپلې ګټې پالنې سياست سره په تضاد کې ويني. ګورئ چې تر اوسه پورې هيڅ څيړونکي تاسو ته نه دي ويلي چې د فردوسي شاهنامه، کـه د هغه پـه خپل وخت کې لـه اوس څخه نژدې زر کالـه وړاندې ـ د عرب ځيلي، خليفه ځپلي او د ترکانو سلجوقي ځپلي ايران د خلاصون لپاره مبارزه هڅوله، نن بايد لـه هغې سره په پوهې چلند وشي نه په تړلو سترګو. د پخواني رژيم لوډسپيکرانو لـه شاهنامې څخه "د ايران د ملي حماسې" پـه توګه نوم اخيست، په داسې حال کې چې پـه هغه کې د ايران لـه ملت څخه کومه خبره نشته او کـه چيرې وي پـه ټولو ځايونو کې د وطن او ملت مفاهيم د پاچا پـه کلمـه کې انځوروي. ښـه، کـه لـه دې پرتـه وي نـو پـه ايران کې د راډيو د جوړيدو لـه لومړيو څخـه بـه يې هر سـهار د لرغوني لوبغالي د ډهل د ضـرب پـه وسيله د خلکو پـه اعصابو کې نـه ننويستله. آخر نن شاهنشاهي شان او شوکت څه بڼه لري؟ او بيا موږ څه کار لرو چې فردوسي له مطلقه سلطنت پرتـه بل سياسي نظام نشو پيژندلی؟

په ايران کې که تاسې غوښتلي وي چې يو کتاب، مقاله او يا يوه رساله تأليف کړئ او په هغې کې مو ليکلې وي چې په شاهنامې کې يوازې ضحاك دی چې شاهنشاهي پرتم نه لري او لـه ولسي پرګنو څخـه راپورتـه شوی دی؛ او دې سرې په دې يا هغې دليل ټولنيز محدوديتونه له منځه وړي او په ژورو ټولنيزو سمونو يې لاس پورې کړی، نو حکومت يې د فردوسي د نظر په خلاف د انصاف او پوهې حکومت و؛ او کاوه نومي پر هغه قيام کړی او د جمشيد د وينې او ختې يو تن يې د هغه پر ځای کښينولی نو هغه څه چې په واقعيت کې د کاوه د پاڅون په توګه تعبيريږي د پخوا په شان ښکيلاکي بهير ته د ټولنې د ستنيدو يوه ضد انقلابي کودتا وه؛ که چيرې يې سر درته د ځانګ لاندی کړی نـه وای، نو لږ تر لږه ستاسو د څيړنو پايلو ته يې د خپرولو اجازه نـه ورکوله او کـه پـه يو ډول لـه لاس څخـه يې خبره وتلې وای، پـه زرګونو وسيلو يې تاسو ځپلئ. لکه څرنګه چې له حافظ څخه زما په برداشتونو، د رژيم کلتوري وړی ښکرينو استادانو په پوره شوده توب سره رايه صادره کړه چې ما بايد محاکمې ته وکاږي، او وروسته چې اوضاع بدلـه شوه پـه پريکنده توګه يې د هغی د خپرولو مخه ونيوله.

هو. حقيقتونه او واقعيتونه موجود دي او هلته دي: په شاهنامه کې، د بيستون په ډبرليکنه کې، د حافظ پـه ديوان کې، په هغو کتابونو کې چې لوستل يې کفر او الحاد ګڼل کيږي، په هغه فلم کې چې سانسور يې د ليدنې اجازه نه ورکوي او په ټولو هغو شيانو کې چې دولتونه او سانسور يې د اخلاق په نوم، د بد ښوونې په نوم، د فکر د ويجاړونې د مخنيوي په نوم او په زرګونو نورو نومونو او پلمو کوښښ کوي چې ولسي پرګني پرې نږدي له هغوې سره مخامخ شي.

د نړۍ په هر ګوټ کې، هر واکمن رژيم چې يو څه ممنوع الانتشار وشميرل، زه ځان ته حق ورکوم چې فکر وکړم د هغه ژريم په کار کې کوم چل شته او غواړي يو څه له ما پټ کړي.

ځينې نظامونـه د سانسور پلي کول پـه دې وينا توجيه کوي چې: "موږ نـه پريږدو ميکروب زموږ بدن تـه راننوځي او زموږ او د خلکو فکري روغتيا خرابه کړي." هغوی په خپله هم پوهيږي چې ببولالی وايي. د ټولنې فکري روغتيا يوازې له مخالف اند سره د مخامخ کيدو په پايله کې خوندي پاتی کيږي. تـه يوازې هغه وخت پوهيدلی شې سم فکر کوئ چې زه ستا منطق په خپل ناسم اند سره ولمسوم. زه هغه وخت کولای شم خپل نيمګړی فکر اصلاح کړم چې ته د خبرو اجازه ولرئ. ابته خبرې پيرودونکي نه لري، خو ته چې زما خولـه تړې زمـا د انـد لـه سموالي، زمـا د انـد لـه اغيزې څخه ويريږي. تا خلك غولولي دي او نه غواړي چې غولونه دې بربنډه شي. آيا د ټولنې لـه فکري روغتيا څخـه انديښمن ياست؟ نـو ولې يې د آزاد فکر مخـه نيسئ؟ د ټولنې فکري روغتيا د خرافاتو او جاهليت پر ضد پـه همدې واکسيناسيون کې نغښتې ده چې عوارض يې سملاسي د تعصب له لومړی تبې سره ښکاره کيږي. د عقل د روغتيا لپاره يوازې د فکر آزادي اړينه بريښي. هغه څوك چې د فکر او تعقل له غوړيدو څخه تاوان ويني د روښنپاله فکرونو مخې تـه ديوال دروي او کوښښ کوي چې ولسي پرګنې د هرې ناندريزې خبرې پر ځای د هغوی قوطي شوي غولونکي احکام ومني او خپل اندونه د همدې قالبي احکامو پر بنسټ چې ورته ګټور ښودل شوي دي، برابر کړي. هغه پرګنو چې پـه دې توګـه خپل فکري خلاقه ځواك لـه لاسه ورکړی وي، د حقيقتونـو موندلو او د خپل ټولنيز ځواك د پيژندلو او د شعور موندنې او آن خپلو انساني حقوقو تـه د پاملرنې لپاره د خپلې ټولنې د انديالو فکري فعاليت تـه اړتيا لـري؛ ځکـه د هغه حقيقت موندل چې د دوکې او چل په کنده کې ښخ شوی وي عاشقانه رياضت غواړي او ښايي په آزاد اندي او له جاهلانه تعصب پرته ملاتړ يې وشي چې دا هم په ناچارۍ سره په دغه ډول شرايطو کې له پرګنيزو ولسونو څخه پوره نه ده.

د ضحاك يا برديا پيښه د دې اصل د ښودلو لپاره يوه بيلګه ده چې حقيقت څومره زيانمن کيدونکی دی او پـه ورته وخت کې د حقيقت له څيرې څخه د دوکې د دوړې ليرې کول څومره ستونزمن دي. ښايي په همدې تالار کې داسې کسان وي چې له فردوسي سره د دې ډول تعصب درلودو او زما د خبرو لـه امله وغواړي زما ګوګل پيدا کړي او ژبـه

مي له ګوګله راوباسي؛ يوازې د دې لپاره چي زرکلن دروغ نن د هغوی د باورونو يوه برخه ده او ورځخه لاس په سر کيدل ورته ناشوني ښکاري.
پخوانيو کسانو ويلي دي "لمر د سيوري لاندې نه پاتي کيږي او حقيقت به بالاخره يوه ورځ وويل شي." دا حکم شايد يو وخت د منښت او د منلو وړ و، خو زموږ په عصر کې چي کوچنۍ تيروتنه کولای شي په لوی ناورين بدله شي، په هيڅ توګه د دې وخت نشته چي لاس تر زني لاندې کښينو او د صبر لاره غوره کړو چي يوه ورځ نه يوه ورځ به حقيقت پر موږ مهرباني وکړي او د خپلو وريځو يوه څنده به موږ ته راښکاره کړي.
نن هر يو له موږ څخه چي دلته سره ناست يو، بايد خپل ځان په پرمختللي منطقي تفکر سنبال کړو چي وکړای شو د حقيقت وړم پيدا کړو او بی له ځنده پټخايي ومومو.
موږ په داسي يو عصر کي ژوند کوو چي نړۍ په بې شميره پنډغالو ويشل شوې ده. په هر پنډغالي کي يې يو بت اوچت کړی او هر پنډغالی اړ شوی چي د يو بت عبادت وکړي. هيله من يم دوستانو چي نه خپل ځان وغولوئ، نه هم زما خبرې پرته له څه چي دي بل ډول تعبير او تفسير کړئ. زما اشاره مطلقاً د ګمڅکي ځوانانو بت جوړوني او بت پالني ته متوجه نه ده چي مثلاً نځاګر مايکل جکسن يا حرفه اي بوکسر محمد علي کُلي ورته د خدای بڼه نيولي ده. زما اشاره د کيش شخصيت کوچني، غمجني او ډيرې شرمناکي ناروغی ته ده چي موږ ډيری ورباندې اخته يو، موږ چي په ټوليزه توګه ادعا لرو، لګن لګن خبرې رااچوو او مثلاً خپل ځان په داسي عالي افکارو او اندونو سنبال ګڼو چي د نوې بردګی له جغ څخه د بشريت ژغورونکي دي.
هو، نيغ په نيغه هدف ولم او شخصيت پالنه يادوم. همدا د نوي عصر شرمناکه بت پالنه يادوم چي موږ ټول ورباندې اخته يو او په هغې ټکي اوښتي چي د جلاتوب او ټوليزو نيتونو د شيندني لامل شوی او موږ هر يو په خپلو لاسونو شاوخوا د تعصب ديوالونه راچاپير او ځان مو په هغو کي زنداني کړی. انسان د بشريت نوميالیو څيرو ته درناوی کوي او د هغوی د افکارو له ډيوې څخه رڼا اخلي، خو کله چي چي له خپلو ځمکني او ټولنيزو نوميالیو څيرو څخه د عبادت وړ آسماني بت جوړوني باندې پيل کوي، نه يوازې دا چي هغه نوميالي کس ته يې سپکاوی کړی، بلکي د همدې نوميالي کس د نيت پر خلاف، د دې پوه ښوونکي د تعاليمو پر خلاف چي غوښتل يې هغه د تعصب او ناپوهی له کندې څخه رابهر کړي، يو ځل بيا د ترورېمو، ناپوهی، ابتذال او جاهلانه تعصب کندې ته ورغورځوي، ځکه شخصيت پالنه د ناچارۍ له مخي له ځان سره وچ مغزه تعصب او دګماتيك قضاوت رامنځته کوي او په خواشينۍ سره دا هغه ويروونکي ناروغي ده چي اخته شوي کس په خپل لاس خپلي ريښي په ترښځي (تيشي) وهي.
يو پوه او با فرهنګه انسان ولي بايد د خپلو افکارو او باورونو په وړاندې تعصب ولري؟ تعصب لرل د يوه جاهل، بې منطقه او بې کلتوره سړي کار دی:
د يو څه په اړه چي نشي کولای په منطقي ډول فکر وکړي، د يوې بشپړې جوړې شوې عقيدې په توګه يې مني او په اړه يې هم تعصب ښکاره کوي. يو لرګی ورته ښکاره کړه او ورته ووايه چي ته دې لرګي پيدا کړی يې، بايد مخې ته يې په ورځ کي درې ځله ټوپونه او دانګونه ووهې او هر ځل ديارلس کرته ووايې زه شوږمبې يم. بيا نو ګوره! څو کاله وروسته بيا راشه او ورته ووايه خانه خرابه! دا حرکتونه چي کوې او دا اَوْتي بَوتي چي د عبادت په نوم شاربئ، کومه معنا نه لري! ـ پوهيږئ څه به وشي؟ـ د هماغې لرګي لاندې چي عبادت يې کوي، ځملوي دې د يو بدمرغه کافر په توګه دې يو غوږ تر بل غوږه پورې غوځوي!ـ دې ته وايو تعصب. اوس نو مهرباني وکړئ دې شرميدلي بنده ته ووایاست چي ولي د هغې ښاغلي تعصب يو جاهلانه کار دی، خو زموږ تعصب چي خپل ځانونه د درايت خاوندان هم ګڼو عاقلانه دی؟
د رژيمونو تبليغات هم کټ مټ د ولس د همدې تعصب ښودني له خاصيت څخه ګټه اخلي. لږ تر لږ موږ ايرانيانو کي تعصب ښودنه ډيره محسوس کيږي.
د تصوف له ستر غورځنګ څخه که سترګي پټی کړو او د هغې د پخيدلو او نفوذ لاملونه استثنا وګڼو، په بيلابيلو دليلونو سره چي يو دوه نيم زره کلن دوديز خفقان يې د ايران په نامه ټاټوبي باندې تپلی دی، زموږ د هيواد انديالو۔ چي د قضا له مخي شميره يې هم هومره کمه نه ده ـ هيڅکله په سمه د اندونو او عقايدو پاکوالی او ناپاکي او وړتيا او ناوړتيا او سموالی او ناسموالی، لکه څرنګه چي ښايي له ټولني سره شريك کړی نه دی. کله چي ولس غافل، ناپوه او بې سواده پاتی شي او جاهلانه تعصب يې ړوند کړي، اند او فرهنګ هم له خوځښت څخه پاتي کيږي او په خپل لاك کي محبوسيږي او په پايله کي، حرفه اي تبليغاتچيان کولای شي د عامه تعصب پر بنسټ خپل هر اند د منلو وړ وګرځوي. کله چي د شاه صفي په څير سړي خور او ظالم انسان ته د ظل الله لقب ورکړل شي، هغه انډيوال چي ټول فکر او ذکر يې الله دی، څه وکړي؟
بيلګه درکوم:
هغه پرتمين مبارزاتي بهير چي په کي يو ملت توانيدلی دی خپل ټول فرهنګ راڅرګند کړي او د هغې په مټ د نيواکګرو پوزه پر خاورو ومږي، په ايران کي د تصوف غورځنګ دی.
ټول پوهيږو چي ايرانيان هغه شين بڼ وغولول چي عربانو ورته د مساوات او عدل او انصاف په شعارونو ښکاره کړی و. د ايران ټولنيزو کړکيچونو دا غوليدل لا هم ګړندي کړل تر هغې چي ويلی شو له هيواد څخه کومه دفاع ونشوه او دروازې له دننه د يرغلګرو پر مخ پرانيستل شوې. خو ايران ته په دننه کيدو سره عربانو خپل شعارونه هير

کړل او داسي چلند یي له ایرانیانو سره پیل کړ چي په واقعیت کي د فاتح او مغلوب او د خواجه او برده چلند و. د صحرايي عرب[1] دا چلند په ایران کي هغه ځای ته ورسید، چي پلي ایرانیانو به حق نه درلود پر خرو سپاره چیرته ولاړ شي. وقاحت یي هغه ځای ته ورسید چي ویل یي که چیرې سپی، خنځیر او ایراني د جومات له مخي تیر شي، د عرب لمونځ باطل دی!

بي فرهنګه دښتي عرب هغه ملت ته چي پیاوړی فرهنګ یي درلود او له خپلو هنري لاسته راوړنو سره یي زړه نښلونکي لیوالتیا درلوده وویل چي موسیقي حرامه ده، شعر مکروه دی، نڅا ګناه ده، تجسمي هنرونه (انځورګري، ډبرکیدنه، مجسمه کیندنه او ځیره جوړونه) مطلق کفر دی. خو ایرانیان له خپل ټول فرهنګ سره راپاڅیدل او د دې پریکون په وړاندې ودریدل او جګړې ته یې ولاړل او د هماغه دین پر بنسټ یي چي د هر ډول فرهنګ او هنر او ذوق ځلیدل یي په هغه ناورین ډول منع کړی و، د تصوف غورځنګ رامنځته کړ او مینه ناکه ځمکنی شعر او موسیقي او نڅا یي د قول او سماع په قالب کي خانقاه ګانو ته یووړله. ډیره ښکلي معماري یي د اسلامي معمارۍ په توګه راوړاندي کړه او په دې جومات او هغه زیارت یي داسي ګنبدونه جوړ کړل چي رنګ په هغوی کي د کنګل شوې موسیقي او طرحونه او انځورونه یي په حقیقت کي د نڅا د ممنوعه او ځپل شوي عقیدې ښکارندوي کوي. دې غورځنګ نه یوازې دا چي ایراني فرهنګ وژغورو، بلکي د ایرانیانو ټول عربي ضد او ملي احساسات یي هم د سمبولیکو عنصرونو او انځورونو په توګه د یوې ټوکي په توګه د اسلامي هنر په خورجین کي وردننه کړ. د اسلامي هنرونو انځورونه له دې پلوه په رښتیا هم د مطالعي وړ دي: د ساري په توګه د جقه په نامه د بوټي طرحه هماغه د صبر ونه ده. هغه ونه چي د زرتشت له آئین څخه سرچینه اخلي او ایرانیانو ته یوه مقدسه ونه وه او د تلپاتي او ابدي زرغونتیا نښه چي بی له شکه د هغي کتارونه مو د جمشید د تخت په کیندني کي لیدلي دي. د اسلیمي د مشهورې طرحي قوسونه او دایرې هم که له ما وپوښتئ، وایم چي هماغه انار ـ زرتشتي مقدسه میوه ـ دی چي ستایلیزه شوی او ګل یي د اور لمبو ته پاتي کیږي چي د آتشکدو یادونه کوي او سر یي کیاني تاج ته ورته والی لري.

پرېږدئ چي یو تریخ حقیقت تاسو ته ووایم

دا پیچلی سیستم چي زموږ ماغزه دي که څه "زده" نه کړي، که "یاد نه کړي او تمرین ونکړي" دوه ټکیزه هم نه ارزي. که انسان له لیوه سره په یوه ځنګل کي لوی شي، نه یي ماغزه ورسره مرسته کولای شي او نه هم کولای شي خپل ناطق ځواك کشف کړي. د نړۍ له نورو ځایونو سره څه کار نه لرم، زموږ په خپل ایران کي د ملت پرګنو د خپل تاریخ په اوږدو کي د تعقل شونتیا، د تفکر شونتیا، د دې ځیز چي ماغزه ورته وايي د کارولو شونتیا نه ده درلودلې. البته دا چي د یو ملت په تاریخ کي د خوارزمي او خیام او حافظ او بیروني او ابن سینا په شان نوابغ راڅرګندیږي، بیله مسئله ده. لومړی دا چي خوارزمي او خیام او د دوی په ځیر کسانو نشو کولای ټولنیز انقلاب طرحه کړي او یا یي مخي ته یوسي او پوهه یي هم هومره نه وه چي د ولس په کار راشي، نو برغولی وربانديې کیږده! یوازې د حافظ په شان سترسړی چي زما په اند په ټولو مهالونو او په ټولو ژبو کي د ټولو شاعرانو سرتاج دی، کله چي د ولس په لاس کي ولویږي برخلیك به یي څه وي پرته له دې چي په دیوان یي فال ووینې؟

زه نه وایم چي زموږ د ملت پرګني قاصر یا مقصر دي، خو زموږ تاریخ ښکاره کوي چي دغه ولس تاریخي حافظه نه لري، ډله ایزه حافظه نه لري، هیڅکله یي هم له خپلو ټولنیزو عیني تجربو څخه څه نه دي زده کړي او هیڅکله یي ورڅخه ګټه نه ده اخیستي او پایله یي دا چي په هر ځای کي چي چاره هډ ته رسیدلي ده، یوې څنډې ته شوي، له یوه ابتذال څخه بل ابتذال ته او دا عرضي حرکت یي د پرمختګ حرکت ګڼلی، ځان یي غولولی؛ زه د انقلاب کارپوه نه یم، خو هیڅکله مي سترګو له خودجوشه انقلاب څخه اوبه نه دي څښلي.

خودجوشه انقلاب هغه بي قوماندانه پوځ ته پاتي کیږي چي ډیر د ماتي خوړلو او دښمن ته د نیواک د وخت ورکولو لپاره په کار راځي، نه د دښمن د ماتي او په کلکه ځپلو لپاره. هر هغه ملت چي تاریخي حافظه ونلري، انقلاب یي که هر څومره هم له مقطعي پلوه "پرتمین" توصیف شي، په پایله کي هغه بنه غوره کوي چي وویل شول. یعني پایله یي له یوه ارتجاعي شي سر راپورته کول دي او خلاقانه عمل به تر سره نه کړي. د زرتشتي مُغانو او روحانیانو د بلوسګری په وړاندې چي چړه یي ورته په هډ کي ښخه کړې، د عربانو دوکه خوري. وروسته ورته پرانیزي او دوه سوه کاله وروسته کله چي د عربانو له فشار څخه پوزې ته راځي او د تصوف غورځنګ رامنځته کوي، بیا یي هاتي د

---

[1] احمد شاملو د ایران اندیاله او ولسي او مبارز شاعر که څه هم په خپله د تعصب په وړاندې پریکنده دریځ لري، خو له بده مرغه لکه څرنګه چي وایي په موږ ایرانیانو کي دا تعصب ډیر محسوسیږي، د عرب ولس په وړاندې له کرکجن تعصب څخه کار اخلي، هغه څو ځای عربو ته صحرایي، بي کلتوره او دښتي وايي او هیروي چي همدا د عرب ملت که له جغرافیایي پلوه په دښتو کي اوسیږي، خو فکرونه یي له آسمانه هم هسك دي. شاملو ولي باید ادوارد سعید، نزار قباني، محمود درویش، سلیم جبران، صادق جلال العظم، جاحظ، خلیل جبران، سمیع القاسم او داسي نور عرب لیکوالان او په ورته وخت کي عرب پرمختللي غورځنګونه د خپل ایراني تعصب له امله هیر کړي؟ په داسي حال کي چي شاملو عرب ته دښتي او صحرايي وایي، جاحظ د عربانو د دویمي او دریمي پیړۍ لوی لیکوال، د ایرانیانو په اړه داسي لیکي: «ایرانیان ویناوال لري، خو د ایرانیانو هره خبره او هره موخه چي لري د اوږد فکر، کار او د مستقلي هڅي او د مشورې او مرستي او د تفکر د ادامي او د کتاب د مطالعيٍ ثمره ده. لومړنی یي یو علم لري، دویم یي ځیري او دریم یي پر هغه یو څه ډیروي...» - ژباړن

هندوستان په فکر کې لويږي او زرتشتي عناصر چي په هومره تاوتريخوالي سره يې ليرې اچولي دي، رامخې ته کوي او د عربانو د خوړولو لپاره له کياني تاج سره د انار د ګل د ورته والي له امله اسليمي طرحې پنځوي ـ هنر يې مخې ته ځي، خو عملاً ټولنه شاته درومي. شاه اسماعيل د سياسي لاملونو له امله رامخې ته کيږي تر څو مملکت شيعه کړي (څه چي ګواکي له سياسي پلوه ډېر ښه دى ځکه هيواد له نابودۍ څخه ژغوري)، ولې دا کار په ډېره لويه بيه تماميږي: په ايران کې د پوهې او هنر او فرهنګ د لاسه ورکولو په بيه او همدا ډول د هغه نژدې نيم ميليونو انسانانو د مړينې په بيه چي دې ته چمتو نه دي بل مذهب ومني او نه غواړي چي له سنيتوب څخه لاس په سر شي او په خپل اذان کې ووايي علي ولي الله. خو همدا ولس چي د تورو له ويرې شيعيان شول يا يې په شيعه ګرۍ تظاهر وکړ، څو موده وروسته په بشپړ ډول دا موضوع هيروي او د تاريخي حافظې ځاى يې داسې تعصب نيسي چي راشه او تماشه يې وکړه! آن مني که پنځه سنيان ووژني نيغ په نيغه جنت ته ځي. خپل پاچا ته چي په ورته وخت کې مذهبي رياست هم لري او پر ځان يې د علي د درشل د سپي لقب ايښودى دى، مرشد کل وايي او په رکاب کې يې د دين د لوړوالي لپاره توره وهي او نړۍ نيسي، په داسې حال کې چي د مرشد کل شپه او ورځ د شرابو په څښلو تيريږي او د بل هيواد د پاچا د شرعي ښځې لاسته راوړلو لپاره د هغه هيواد خاوره په کڅوړه کې اچوي!

خپل مطلب ته راستانه شوو:

لنډه دا چي، انځورګرۍ او نڅا او موسيقي او شعر لاس په لاس ورکړل او کټ مټ د اسلامي مرکزونو، د خانقاه ګانو له منځه په خوځښت راغلل او د دې فرهنګ چي له ښايست څخه ډك و، کوکارې آن ظاهراً د مسلمانو خلفاو په مانۍ کې هنګامې جوړې کړې. تر دې ځايه د مقاومت او مبارزې مشرې د آزاد اندو او متفکرينو په لاس کې وه او د خلفاو د دربار د کلکې او سختې صوفي وژنې او د سرغړونکو صوفيانو له تريې تم کولو سره سره، تصوف تر هغې ځاى نفوذ وکړ چي خانقاه ګانې عملاً د مذهب په اصلي مرکزونو واوښتلې.

له بده مرغه دلته وخت نشته دا ښکاره کړم چي عربي اسلام څه و او هغه اسلام چي ايراني تصوف ورڅخه جوړ شو، څه و، خو کولاى شم له خروار څخه د موټي د بيلګې په ډول د صوفيه مشرانو د معتقداتو يو کوچنى ټکى راوړم:

«صوفيان په خانقاه کې سره راټول شوي وو چي له بهر څخه د اذان غږ پورته شو: "الله اکبر" (خداى لوى دى). شيخ سر وخوځاوه او ويې ويل: ـ و انا اکبر منه (زه له خداى څخه لوى يم!)».

خو راځئ وګورو د تصوف خبره کوم ځاى ته ورسيده؟ هيڅ. وروسته له هغې چي تصوف خپل ټولنيز ـ سياسي رول تر سره کړ، د ايران پاچاهانو هغه له فرهنګي او ملي منځپانګې څخه تش کړ او د بې غيرتې او مفتخورۍ او درويش مسلکۍ په بڼه يې واړاوه او ورڅخه يې يو خوشې شى جوړ کړ ترڅو بې له ځوريدلو وکړاى شي د عربو خلفاو د دربار په نوکرۍ او مزدورۍ وويارې او د هيوادپالو او خپلواکپالو وينه توى کړي.

البته دا لنډه او راغونډه شوې طرحه وه چي وړاندې مې کړه او شوني ده چي ځينې برداشتونه مې ناسم وي. دا طرحه مې د دې لپاره ورکړه ترڅو وويلى شم هغه ستر غورځنګ څه و او څه ترېنه جوړ شول. خو وروسته چي مغرضو مزد قلمه تاريخ ليکونکو چي د ورځې په سياست سره يې خبرې وکړې، تصوف د هماغه لومړيو نه له مفتخورۍ او درويزګرۍ او درويش مسلکۍ پرته بل څه نه و او موږ هم دا حکم د يوې نازل شوې وحې په توګه ومنو.

که ويلي يې دي چي انسان وژونکى دوکه مار او اپورچونيست انوشيروان د عدل او انصاف ښنه ده، دا حکم موږ هم د نازل شوې وحې په توګه منلى ده او که فردوسي تيروتنه کړې يا يې له چلمارۍ کار اخيستى او د ضحاك اسطوره يې په دغې بڼې اړولې ده، آن زموږ تحصيل کوونکو او حقيقت ليوالو د هغه دا حکم هم د نازل شوې وحې په توګه منلى دى.

ما د تصوف د غورځنګ او د ضحاك د اسطورې په اړه د ناسمه قضاوت موضوع د دوو تاريخي بيلګو په توګه مطرح کړه چي تاسو ښاغليو دوستانو ته ښکاره کړم چي حقيقت څومره زيانمن کيدونکى دى. دا بيلګې مې راوړلې ترڅو خبر ووسئ چي څومره حرموني زموږ د قضاوت او برداشتونو په لاره کې ناست دي چي کولاى شي په يوه جادو سره ورګه شړومبې او سپين تور ښکاره کړي او رنګ شوى پيل مرغ د کويلې پر ځاى موږ ته ښکاره کړي. دا بيلګې مې ځکه راوړلې لکه څرنګه چي مې د خپلو خبرو په لومړيو کې وويل ترڅو زما د انديښنو د څرګندولو لپاره لاره پرانيزي؛ هغه ځوروونکې انديښنې چي له سبا، له راتلونکې مې روح توږي او اره مې پر هډوکو راکاږي. اوس چي مې دا زمينه برابره کړې ده، کولاى شم تاسو ته ووايم که د پوهې دننه د تعصبي شرايطو له امله د ټولنې روڼ اندو ته د انساني او ټولنيز رسالت لپاره د عمل کوچنى امکان نشته، له تاسو چي زده کړې لرئ او د ټولنې پوه کسان ياست او دا نيکمرغي مو هم درلودلې چي څه موده له اختناق څخه ليرې ځان روزنه وکړئ، په هيڅ توګه د منښت نه ده چي هر حکم او هر ايزم يوه نازل شوې وحې وګڼئ او دمخه جوړ شوى هر حکم ناسنجيده او بې له فکره ومنئ. دا امکان تاسو ته شته چي څه موده د آزاد اندۍ له نعمت څخه برخمن ووسئ، نو له دې شونتيا څخه تر هغه ځاى پورې چي کولاى شئ ګټه واخلئ. که د ايران د پوهنتونونو له يوه محصل څخه دا خبره د منلو وړ وي چي په ناجوړه شرايطو کې د هر ډول مات

او ګوډ حکم پـه منلو اړ دی او د دې حکمونو د ګوډوالي د اټکل کولو لپاره کومه وسيله په لاس کې نه لري، خو داسې يوه خبره ستاسې څخه د منلو وړ نه ده.
تاسې ته د خبرو او ناندريو وخت شته. تاسې دې بحثونو، ناندريو او فکري راکړې ورکړې ته اړتيا لرئ، دنده مو ده، ناچاره ياست، ځکه چې زموږ سبانی ژوند له هغې سره تړاو لري. ځکه کـه سباته بيا تير وځئ، زموږ ژوند او روغتيا په خطر کې اچوئ او که زه په ناسمې لارې ولاړ شم تا هم کړليچونو ته کاږم. د لږ پوهيدنې خطر د نـه پوهيدلو له خطر څخه ډير دی. زموږ پخوانيو خلکو ربښتيا ويلي دي چې: "نيمچه حکيم د ځان بلا، نيمچه ملا د ايمان بلا." د ولسونو ناپوهي يو بالقوه خطر دی، ځکه په ناڅاپي ډول راپاڅيږي او بې فکره او بې هدفه لاس په عمل وهي؛ خو کـه تـه ونشي کړای سم فکر وکړي، دا بالقوه خطر په يو ناورين بدليږي.
تاسې بايد هره شيبه ځان محاکمه کړئ چې آيا واقعاً هغه څه چې وايم او کوم يې، سم دي؟ آيا کولای شم بـې لـه انديښنې او بې پروا ادعا وکړم که له خپل انساني شرافت څخه وغواړم زما د اندونو او برداشتونو د روغتيا ضـامن شـي، له يوې شيبې شك پرته دا ضمانت به ومني؟ تاسې حق نه لرئ چې لږ پوه شئ، حق نـه لـرئ ورپيږئ، حق نـه لـرئ تير وځئ، ځکه يوازې ليوني کولای شي خپل خيالونه نګه حقيقت وګڼي او د تيروتنې لـه شـونتيا څخـه چـرت يـې هـم خـراب نشي.
پريږدئ چې وروستی خبره وکړم: تاسې حق نه لرئ پر هيڅ يو حکم او آيت چې له پخوا څخه نن ته رارسيدلی او په پټو سترګو مو هغه منلی دی، ايمان ولرئ. له مطالعې پرتـه ايمـان د بشر د پرمختګ پـه لاره کـې خنډ دی. يـوازې دروغ او چال له خپلو اتباعو څخه د مطلق ايمان غوښتنه کوي او هغوی ته تلقينوي که شك وکړئ مخ مو توريږي؛ ځکه يوازې او يوازې شك دی چې انسان حقيقت تـه رسـوي. هغـه انسان چـې حقيقت مونـدنې تـه ژمن دی، هيڅ دګم، هيڅ فرمول، هيڅ آيت نه منې مګر دا چې په هغې کې لومړی تعقل وکړي، هغه د منطق او عقل په کارځای کې اټکل کړي او هغه وخت ورباندې باور پيدا کوي چې حقانيت يې په يقيني علمي او منطقي دلايلو سره ومومي. کله چې ديـالتيکي منطق ما ځوابولی شي چې د دوو ويالو اوبه په يوه اندازه نشي کولای ما لوند کړي، زه حق لـرم پـه تـاريخي تجربو هم شك وکړم؛ مګر دا چې د يوې تاريخي تجربې د برې شرايط زما د ټولنې لـه شرايطو سره د سر ويښته پـه اندازه هم فرق ونکړي - بې له ګمانه چې د دوو ټکو تر منځ تر ټولو لنډ واټن مستقيمه کرښه ده، خو په هندسه کـې يـې موږ تـه ويلـي دي چې همدا له لمر څخه روښانه ټکی ترڅو په علمي توګه ثابت نشي، د منلو وړ نه دی، خو موږ لـه دې سره سره پـه هغو خوشيو شيانو ايمان راوړی که چيرې د عقل پـه سترګه يوازې کوچنی بڅرکې تـه هم وګورو، پر خپل شوده توب بـه وخاندو.
د نړۍ په شته اديانو باندې يوه ځغلنده کتنه وکړئ:
دينې او مذهبي ايمان او اعتقاد، لـه بت پرستی څخـه د موسی تر دين او لـه بـوديزم څخـه د زرتشت آئين او مسيحيت او نورو نورو پورې، معمولاً د يوې ور ترلې صندوقچې په توګه پـه ارثـي ډول لـه والدينو څخـه اولادونو تـه ليږدول کيږي. په قاطعيت سره ويلی شم موږ ټول چې د دې چت لاندې راټول شوي يو، که مذهبي واوسو نو په هغه مذهب بـاور لـرو چـې زمـوږ والدينو درلودلی دی. البتـه دلتـه د مذهب پـه هکلـه خبـرې کـوو، نـه د دين. دين، اصلي او لومړنی تنه ده. د تاريخ په بيلابيلو پيړونو کې؛ دين، پـه بيلابيلو دليلونو انشعاب کړی او ګڼ څانګه مذاهب تری پيدا شوي او خپله لاره يې غوره کړې ده. لکه چې د اسلام دين څو اويا څـانګې يـا مذهبونـه درلـودل چـې نـن نژدې يو سلو ديرش ځلوينتو ته رسيدلي دي. طبعاً هر مذهب هم ځان تـه د روحانيت ټولنـه لـري. د هر مـذهب د روحانيت د ټولنې وګړي هم په ناچاره باور لري چې يوازې د دوی مذهب په حق دی او نور مذهبونه او اديان کفر دي او ډيره لويـه غلطـي کوي. دا هم قبول، ځکه که داسې باور ونلرئ نو بايد ولاړ شئ او بل دين خپل کړئ.
اوس نو موږ د يوې شيبې لپاره د جهان شته مذهبونـه د کفر او د دين پـه دعوا پر ځمکې پريږدو او پـه خپلـه الوځو او له بهر، له هغې پورته ورته ګورو:
مسيحي (له کاتوليك او پروتستان او انجيلي او کواکر او ګريګوري او ارتـودوکس سره کوم کـار نلرو، ځکه دا ټول د کورنيو جګړو مقولې دي)، مسلمان (د سني او شيعه او حنفي او حنبلي او د اسلام لـه نـورو مذهبونو سره هم کـار نلرو)، بودايي (له شينتو او کنفسيوسي او دائويي سره يې هم کار نلرو)، برهمني، زرتشتي، مهري، مانوي، بت پرستـی، لمر پرستی، اور پرستی، شيطان پرستی، غوا پرستی، يهودي او... ټول په دې باور دي چې زما مذهب په حق دی.
ښه، موږ چې تللي يو پورته او له هغه ځايه دا ټول ګورو، يوه پوښتنه راپيدا کيږي:
بالاخره دا ټول مذهبونه خو نشي کيدای چې په حق وي. عقل حکم کوي چې له دې ټولو څخه يوازې يو يـې بايد پر حق وي. زما موخـه البتـه يـوازې يو مثـال دی او د مناقشې بيلګـه نـه ده. او زه هـم پـه هغـه مقام کـې نـه يـم چـې د دې مذهب يا هغې مذهب د حق او ناحق يا د ردولو په اړه حکم وکړم. خو دا ويلی شم چې زه يـوازې د هغه بـودايي کـاهن پـه ادعا چې بوديزم په حق ګڼي، شونې نه ده چې ايمان راوړم، ولې؟ يوازې په دې ساده دليل چې هغه خپل مذهب لـه نـورو مذهبونو سره له ارزونې وروسته نه دی غوره کړی، بلکې مذهب يې ورتـه پـه ارثـي توګـه رسيدلی او بـې لـه منطـق او د انتخاب له حق پرته يې منلی دی، نو ولې يې ادعا سمه وي. خپلـه بـودايي تـوب يـې پـه ارث وړی او لـه همدې املـه پـه سستی سره وايي چې بودايي دين په حق دی؛ که هغه د يوه بت پرست په کورنی کې زيږيدلی وای او بت پرستي يـې پـه

ارث وړي وای، ویل یي بت پرستي په حق ده. آن که یوه شیبه هم ومنو چي په ربنتیا هم بودیزم یو په حق دین دی، بیا هم د هغه ښاغلي خبرې زړې ببولالي دي.

با شعوره انسان یوازې په هغه شي باور پیدا کوي چي په خپله یې په منطقي تجربې سره هغه تر لاسه کړې وي. په عیني، علمي، عملي، قیاسي، فلسفي او د ټولو وختي او ځایي شرایطو په دخالت سره یې تر لاسه کړې وي.
انسان یو منطقي متفکره موجود دی او ناچاره باید هومره مغرور وي چي بسته بندي شوي احکام د خپل مستقیم تعقل له دخالت پرته ونه مني. د احکامو منل او پر هغي تعصب ښودل انساني شرافت ته سپکاوی دی. له بده مرغه ښايي ومنو چي موږ ډیر شیان منلي دي یوازې د دې لپاره چي یوه شیبه هم بهر ته نه یو تللي او له بهر، له هغي پورته مو هغي ته کتلي نه دي.
عقیدیتي جګړې او نانډرې یوازې پر دې پیل کیږي چي د دعوا یو اړخ هم حقیقت ته د رسیدلو غوښتونکی نه دی او یوازې غواړي خپله ضعیفه عقیده پر نورو ومني. او دا ډول جګړه او مرافعه د همدې لپاره ډیره سپکه او بې ارزښته او بې اعتباره او زرګري او بې بنسټه او په پایله کي ناهیلي کوونکی ده. له امریکا سره ټیلیفوني خبرې کوم. هغه خوا وايي چي د سهار اته بجې دي او زه وایم چي د شپې اته بجې دي او دواړه هم ربنتیا وایو. خو دعوا مو پورته کیږي، ځکه چي یو بل په دروغو تورنوو. هغه له کړکی څخه بهر ته ګوري او پر ما چیغه وهي: له دې ځلانده لمر سره څرنګه ځان ته اجازه ورکوې چي ما وغولوې او دومره بې خونده دروغ ووایې؟
زه هم له کړکی نه بهر ته ګورم او چیغه وهم چي: یا خدایه! وګوره حرمونی څرنګه غواړي پر ما ملنډې ووهي!
او زرګري جګړه پیل کیږي، په داسي حال کي چي موږ هیڅ یو دروغجن نه یو؛ یوازې آسمان د کوهي د سر په اندازې ګورو، یوازې د یو بل په شرایطو نه پوهیږو، پوهه او هوښیاري نه لرو او په خپلو سطحي برداشتونو او استنتاجاتو کي وختي او ځایي شرایطو ته دخالت نه ورکوو.
آیا دا حیرانوونکی شی، دا د مغز په نامه وسیله او فکري سیستم چي یوازې او یوازې پر دې ځمکه د هغه په تملك کي دی، او له دې سره سره غالباً ناروغ ډولو احکامو پسي پسه ډوله ګرځي او دا د فکر کولو ښایسته ویاړلي وسیله بې‌کاره پریږدي او ورڅخه معطله وسیله جوړوي؛ د انسان مقام ته سپکاوی نه دی؟

خبره رالنډه کړم

پر ولسونو هیڅ ډول اعتراض نشته چي دا ډول او هغه ډول فکر ولري یا داسي یا هغسي عمل وکړي، خو پر زده کړیال قشر چي هم د ځان او هم د ټولني د برخلیك په اړه اندیښنه لري، د متفکره ماغزو پر صاحبانو اعتراض شته.
پر هغه محصل چي له آزادۍ محروم دی او د بحث او پلټني وخت ورته نه ورکوي کوم اعتراض نشته، خو پر تاسي چي د پلټني او مباحثي او د فکري راکړې ورکړې له امکاناتو څخه برخمن یاست، اعتراض شته. په ځانګړي توګه چي تاسي خپل ځان څنډې ته نه کاږئ، او نه وایاست چي په ما یې څه، هڅاند یاست او مسوولیت منئ، نو پر تاسو ده چي د هغي ټولني پر ځای په ژوره توګه منطقي فکر وکړئ چي د منطقي تفکر شونتیا له هغي اخیستل شوې ده.
ښه، اندیښنه پاروونکي پوښتنه زما دا ده:
- تاسي ځوانان چي سپیڅلي خلك یاست، له ځانګړې ختې څخه جوړ شوي یاست، په نوم او ډوډۍ پسي نه ګرځئ، یوازې د ټولني ګټه او روغتیا غواړئ او د عقیدې لپاره خپل سر ورکوئ، د کار په کوم ځای کي یاست؟ څه تګلاره په لاس کي لرئ؟ څه غواړئ وکړئ؟
چا زما دې دردجني پوښتني ته ځواب نه دی ورکړی، تاسي خپل ځان ته څه ځواب ورکوئ؟ که زړګی مو نه ماتیږي، زه یې په خپله وایم. ګمان کوم ځواب به دا وي چي:
- د سبا فکر سبا ته!
دومره باید ووایم چي ستاسي لپاره خواشیني یم.
له دې پوښتني هم تیریږم او یوه بله پوښتنه، نرمه پوښتنه کوم:
- سبا څه باید وکړئ؟ آیا تاسي له خپل ځان نه یو څه جوړ کړي دي چي سبا په کار راشئ؟ په انتقادي نظر مو ځانته کتلي دي چي وګورئ فرهنګي بیخ بنسټونه مو په کوم حال کي دي؟
زموږ د ملت زیات شمیر اولادونه چي له هیواد څخه بهر زده کړې کوي، له ایران نه د وتلو پر مهال په دوو کاملاً ښکاره دلیلونو روغ فکري بیخ بنسټ نه لري. لومړی په دې دلیل چي اصولاً په هغه عمر کي نه دي چي فرهنګي چارې او ملي هویت ورته اهمیت ولري یا یې زموږ د هیواد له ټولنیزو شرایطو څخه لازمه پوهه تر لاسه کړې وي، او دویم په دې دلیل که چیرې هم دې چارو ته یې پام ګرځولی وي، د هیواد سیاسي فضا هغه فضا نه وه چي په هغي کي په آزاده توګه توانیدلی وي د دې چارو په اړه فکر او ارزونه وکړي. یو دا چي دې ډول ګټورو څیړنو او پلټنو لپاره منابعو ته د لاسرسي شونتیا نشته، بل دا چي کومي شمیرني او معلومات چي درکول کیږي، د اعتماد وړ نه دي. په یوه وینا چي دروغ پر درې ډوله دي: کوچني، لوی او شمیرنی. آن ټولنپوهان مو زموږ د ټولني د حقایقو په اړه سمه پوهه نه لري. نو کاملاً طبیعي ده چي زموږ ډیری ځوانان د هیواد نه د وتلو پر مهال د هغي تنکی لښتي په شان دي چي له

یوې ونې څخه یې غوځه کړئ او هیڅ ریښه له ځان سره ونلري. که زما غوندې په دې عمر او وخت کې جلا وطنی ته اړ شې، په هر حال ریښې له ځان سره راوړې، خو یو ځوان محصل د یوې قلمچې په شان دی؛ هغه تانده نیالګی دی چې تازه یې له ونې پرې کړی وي او په دې پردی خاوره کې یې ښخ کړی وي او کومې ریښې چې نیسي، ناچاره له همدې اوبو او خاورې یې نیسي. منم چې ریښې نیسي خو په هغې خاورې کې چې د هغه نه ده او سبا چې وطن ته ستون شي، هغه ریښې له ځان سره وړې چې بدلې دي، زموږ فرهنګي جغرافیې سره پردۍ دي او ورسره نه جوړیږي.

زه د زړه له کومې هیله من یم چې په خپل دې قضاوت کې یو سلو اتیا درجې تیروتلی ووسم، خو تر هغه ځایه چې مې د هیواد نه بهر د محصلینو له ټولنو سره اړیکې درلودلي او په سترګو مې لیدلي دي، په هغوی کې مې د دې ډیرې زیاتې حساسې موضوع په اړه کومه اندیښنه نه ده لیدلې.

ډیر دوستان مې لیدلي چې ظاهراً د هغوی په خیال ایراني چاپیریال لري. یعنې شنه قورمه خوري؛ له چمبې سره د حوض په شاوخوا کې نڅیږي؛ د کاباره اي نګاګانو پر ځای د بابا کرم نڅا غوره ګڼي؛ که مذهبي عقیده ولري، لمونځ کوي او روژه نیسي؛ کومه غوښه چې خوري د هغې د حلالو د څرنګوالي په اړه ډیر حساسیت ښکاره کوي او یو شمیر یې هم د غوښې خوړل بالکل پریږدي او که ونشي کړای پرونی په سر کړي، له دستمال سره ګوزاره کوي. له خپلې خواښې، اوښې، خینې او وړندار سره د یوه چټ لاندې ژوند کوي او په دې غلط ګمان چې خپل دسترخوان پر ځمکې هواروي نو خپل ملي فرهنګ یې ساتلی دی او ایراني پاتې شوي دي. عادت له فرهنګ سره غلطوي او خپل ځان غولوي، ځکه هیروي چې نازبین ته یې آن خپله مورنی ژبه یاده نه ده او له پارسي څخه یې یوازې د پدرسوخته کلمه زده کړې ده چې په معنا یې هم نه پوهیږي او له امریکایي ګردود نه هم ورڅخه ډیر تماشایي شی جوړیږي!

ما په خواشینی سره ډیر نړی لیدونکي زده کړیالان لیدلي چې د خپل هیواد د سبا په اړه هډو هیڅ اندیښنه نه لري. ډیر زده کړیالان مې لیدلي دي کله چې سبا وطن ته ستانه شي، د یوه بهرني مشاور په شان به یو پردی موجود وي بې له دې چې ایراني فرهنګ سره کومه آشنایي ولري؛ له خپل تاریخ، له خپلو ادبیاتو، له خپل هنر سره کومه آشنایي ولري او بالاخره به یو اړخیزه او نه خلاقیت لرونکی موجود وي، که ډیر ښه یې وګڼئ نو یو ماشین یې ګڼلی شئ. دلته چې وطن یې نه دی هم پردی دی او هلته چې وطن یې دی هم پردی دی.

په دې یا هغې رشتې کې د تخصص درجې ته رسیدل په هیڅ توګه د فرهنګ او د فرهنګي هویت موندنې په معنا نه ده او هغه ځوروونکې پوښتنه چې تل ما ته راولاړیږي دا ده چې سبا زموږ هیواد به د دې زده کړیالانو هر یو تن ته اړتیا ولري، آیا سبا چې دغه ځوانان هیواد ته راستانه شي یوازې لیسانس او پوهاندي او له پوهاندی پورته یا په دې او هغې علمي رشتې کې دیپلوم لرل به زموږ د هغو ټولو اړتیاو د پوره کولو لپاره بس وي؟

د خپلو خبرو پای ته رسیدلی یم، زما زیات ګریدل تاسې ټول ستومانه کړي یاست، خو پریږدئ دوستانو یو ځل بیا هغې مطلب ته ستون شم چې له دې مخکې مې وویل:

انسان چې له یو مختنق چاپیریال څخه خوشې کیږي، لومړنی احساس چې د خپل فکر او عقیدې د آزادۍ څخه لاسته راوړي، هغه یې هیجاني کوي او دا ډیره طبیعي موضوع ده. دا احساس چې انسان کولای شي د عقایدو د تفتیش د شبکې د مامورینو د څارنې له ویرې پرته په اعتماد او خپلواکۍ او بشپړ واک سره د ځان لپاره عقیده او فکر ټاکي، ډیر ښادي بخښوونکی دی. خو دا احساس ځینې وخت د خویدلو لامل او کله د دې لامل کیږي چې موږ بې له فکر او تعقل څخه لومړنی عقیده چې ورسره مخامخ کیږو ومنو؛ یعنې په مطلقه او مجرده توګه او بې له دې چې فکر وکړو دا عقیده د ایران په فرهنګي شرایطو کې د کارولو وړتیا لري که نه. زه باید دا احتمال ومنم چې دا یا هغه عقیده مې په ښه نیت خو په پټو سترګو منلې ده، نو نه ښایي چې د هغې په اړه وچ تعصب وښیم. باید دا احتمال ومنم چې شاید نورو کسانو هم زما په ورته شرایطو کې عقیدو ته لاسرسی موندلی وي، نو عاقلانه نه ده چې له هغوی سره دښمني او شخړه پیل کړم، ځکه د دې تعصب ښودنې او د سرتمبه توب پایله له ځانګې ځانګې کیدنې پرته بل څه نه دي؛ له ګوښه کیدنې، کوچنی کیدنې، جلا کیدنې، زیانمن کیدنې، کمزورې خورې ورې هستې جوړونې او له واقعیتونو څخه لیرې پاتې کیدنې پرته بل څه نه دي.

"څوک چې دوستان نه دي، دښمنان دي"، هغه احمقانه شعار و چې اصلي شعارورکوونکي یې هم وخوړل. موږ حق نه لرو داسې فکري چلند ولرو. موږ حق نه لرو د خپلو تیوریګانو نه دګم شیان جوړ کړو او د خپلو سیاسي کتابونو په آیتونو مذهبي ایمان پیدا کړو او جاهلانه تعصب وښیو. دا زموږ فرض دی کوم شیان چې مو سم ګڼلي دي په یو بشپړ دموکراتیک چاپیریال کې، له شرمناکه قشري تعصب څخه آزاد چاپیریال کې، په یوې روښانه فضا کې چې هلته یوازې عقل او منطق او استدلال د درناوۍ وړ وي؛ له هغو نورو شیانو سره چې نورو سم ګڼلي دي محک ته وړاندې کړو، که موږ تیروتي وو، نور به زموږ د لارې ځراغ شي او که نور په خطا ځي موږ به یې د خویدلو مخه ونیسو.

موږ له ډیرو اړخونو څخه د فکري راکړې ورکړې او د متقابل تفاهم لپاره یو آزاد چاپیریال ته اړتیا لرو:

۱- هیڅوک ادعا کولای نشي چې زه سم فکر کوم او نور غلط. د داسې ځانځانی اعتقاد لرل سوچه شوده توب دی.

۲- که د یو فکر د حقانیت او روغتیا شونتیا لیدل کیږي، هغه فکر لزوماً باید تبلیغ شي. د داسې فکر منفردول او ځنډې ته شړل بې له شکه جنایت دی.

۳ـ موږ هر یو تن باید کوښښ وکړو چې منطقي کسان ووسو او دا خصلت یوازې د نورو عقیدو له خلکو سره د خبرو اترو او د بحث له لارې لاسته راتللی شي.
۴ـ دګماتیکي عقیدې چې د انسان په باور کې په ډېرې بدل شوې دي، یوازې د فکرونو او اندونو د تبادل او تقاطع له لارې کیدای شي لیرې وغورځول شي. هغه څوك چې له نورو سره له فکري تقابل څخه ډډه کوي، متعصب دی او تعصب له جهالت او ناپوهۍ پرته بل مفهوم نه لري.
۵ـ حقیقت یوازې د فکرونو په دموکراتیك اصطکاك راڅرګندیږي او موږ باید هغه ډول کسان ووسو چې له حقیقت پرته بل څه ته سر ټیټ نه کړو. او له هغه څه پرته چې حقیقي او منطقي دی، بل څه ته د سپیڅلتیا په سترګه ونه ګورو آن که له آسمان څخه نازل شوی وي.

زموږ هیواد سبا د دې ډول روحیاتو کسانو ته اړتیا لري ترڅو ټول ځواکونه یو موټی پاتې شي، او زما پوښتنه دا ده:
ـ آیا له ځان نه مو د هیواد د راتلونکي لپاره یو ګټور کس جوړوئ؟
خو دا هغه پوښتنه ده چې ځواب یې باید یوازې تاسې ته قناعت درکړي.

۱۳۸۷